سلطان جان کلیوال ۲۰۲۰/۰۳/۲۶

# افغانستان یو آزاد او مستقل هیواد دی:

نژدی شل کاله وشول چی د امریکا د متحده ایالاتو او د ناتو نظامی ټولګی په افغانستان کی دیره دی. دوی د طالبانو قدرت د بن لادن د نه تسلیمی له کبله له منځه یوړ. په بن کی د کرزی په مشرۍ دولتی قدرت د شمال ټلوالی ته د داکتر زلمی خلیلزاد له خوا ور وسپارل شو. کرزی به یا مجبورو او یا به ورسره شریک و، خو چی افغانستان ته هر څومره مرستی د نړیوالو له خوا ورکړلی شوی د هغی ممکن له اتیا سلمی برخی نه زیات د شمال د ټلوالی او د غرب نه د راغلو وطنپالو؟ تیکنوکراتانو جیبونو ته ولویدلی او د عوامو خلکو په ژوند کی کوم داسی بدلون چی یا یی تعلیمی سطحه لوړه شی او یا یی اقتصادی، صحی او ټولنیز حالت ښه شی را منځ ته نه شو.
کرزی صاحب د ډیرو مادی امکاناتو په شتون کی نژدی پنځلس کاله خانی و چلوله، خو له بده مرغه د ملت یوه ستونزه نه یواځی داچی حل نه شوه بلکی نوری لا علاجه نوی ستونزی، لکه د مخدره موادو د تولید او قاچاق د شبکی پراخوالی، انسان تښتونه،فساد او په لسګونو نور لوی او واړه جرمونه نوی نوی په دی توره دوره کی د افغان ځمکی نه را وټوکیدل اوتقریباً ټول ملت پری ککړ شو.
د ۲۰۱۴ کال په ټاکنو کی ډاکتر محمد اشرف غنی د خلکو په مستقیمی رایی سره د جمهوررئیس په توګه و ټاکل شو، خو داسی ښکاری چی د ځینو مرموزو پلانونو له مخی داکتر عبدالله چی په ټاکنو کی د داکټراشرف غنی سیال و، و لمسول شو چی د ټاکنو نتیجه و نه منی.ډاکتر غنی د دی د پاره چی ملی یووالی ته زیان و نه رسیږی دی ته حاضر شو چی د ډاکتر عبدالله سره قدرت شریک کاندی.(دا خبره د جان کیری د خولی ده چی په افغانستان کی د ملی یووالی د حکومت د جوړیدو مفکوره زما نه بلکی د ډاکتر محمد اشرف غنی طرحه وه). د ملی یووالی حکومت چی په هیواد کی د دوه سری حکومت په نوم مشهورشو، په مجموع کی د انکشافی پلانونو د سم تطبیق په برخه کی یو ناکام حکومت و او ولسی خلکو ته یی لکه څنګه چی هیله وه هومره کار ونه شو کړلی.

له بده مرغه د ۲۰۱۹ کال د جمهوری ریاست ټاکنی بیا هم د همدی دوه تنو ترمنځ د هماغه ۲۰۱۴ کال د ټاکنو په څیر په « نه منم» پای ته ورسیدی. او د دتیری دوری نه دا اختلافات لا یوڅه مخی ته هم ولاړل په دی مفهوم چی دوه کسانو(ډاکټراشرف غنی او ډاکټر عبدالله) د جمهوررئیس په توګه د لوړی مراسم سرته و رسول او همدا اوس هیواد ، یو جمهوررئیس په ارګ کی او یو بل د سپیدار په مانۍ کی لری او هر یو ځان د دی ولس واکدار بولی.

بیا هم د متحده ایالاتو بل خارجه وزیر مایک پمپیو افغانستان ته راغئ او د منځګړیتوب د پاره یی هلی ځلی وکړی خو کومه نتیجه یی تر د لاسه نکړه او د نا هیلی سره د افغانستان نه و وت. نوموړی د وتلو سره سم اعلان وکړ چی د یو ملیارد ډالرو په اندازه مرستی به، له دی کبله چی خبره یی و نه منله شوه په افغانستان باندی ودروی ، چی د دی اعلان سره سم یی د هیواد په اقتصادی وضعه باندی منفی اغیزی ولیدلی شوی. ممکن نوری ستونزی هم وزیږوی خو زما له نظره د ښاغلی پمپیو د منځګړیتوب بی نتیجی پاتی کیدلو لاندی ګټی هم افغان ولس ته ورسولي:

۱ – تر ټولو لومړی ګټه یی داده چی زمونږ ډیر وطنوال د طالبانو د مخالفی جنګی ډلی په ګډون وایی چی اشرف غنی د امریکا ګوډاګی دی. داچی د هغه په پنځوس سلمه ونده چی عبدالله ته یی غوښتله ، موافقه و نکړه او د اقتصادی تهدید نه یی هم ویره څرګنده نکړه، دا د هغه په مطلق استقلالیت باندی د لالت کوی. نو له دی ځایه باید و پوهیږو چی داکتر محمد اشرف غنی د چا ګوډاګی نه بلکی یو مستقل ملی شخصیت دی او دیوه آزاد هیواد جمهوررئیس دی.

۲ – داچی دآکتر اشرف غنی د هیواد قانونی جمهوررئیس دی او بیا یی هم د هیواد د ملی ګټو او ملی یووالی د تامین په منظور، ښاغلی ډاکټر عبدالله او د هغه ملګرو ته دهیواد سوله ایزی پروسی په تطبیق کی اساسی دنده ورکوله او په کابینه کی هم برخه ورته ومنله، دا څرګندوی چی هغه تر بل هرچا د هیواد ملی ګټو او ملی یووالی ډیر اهمیت ورکوی. خو د افسوس خبره داده چی داکتر صاحب عبدالله سره له دی چی په کراتو کراتویی د جمعی رسنیو له لاری دا خبره کوله او کویی چی د سولی د تامین د پاره هرډول قربانۍ ته تیار دی، خو نن چی ورته په نیغه توګه د سولی د تامینولو مسؤلیت ورکول کیږی هغه نه منی او د سولی د باصلاحیته ماموریت په عوض د صدارت چوکۍ غواړی.

اوس نو زمونږ وطنوال باید و پوهیږی چی دآکتر صاحب عبدالله ته د چوکۍ او مقام نه هیڅ شی ډیر ارزښت نه لری.

۳ – دا کتر اشرف غنی په خپل دی دریځ سره چی نیولی دی د هیواد د ملی زعیم په توګه د هیواد په راتلونکی تاریخ کی خپل نوم ثبت کړ.

۴ – اوس به نو درنو هیوادوالو، روشنفکرانو،پوهانو، ځوانان، ښونکو، زده کونکو،ښځو نارینه و کسبګرو، کارګرو او بزګرواونورو ټولو ته دا څرګنده شوی وی چی که دوی ټول د اشرف غنی تر څنګ ونه دریږی او له هره پلوه یی ملاتړ و نه کاندی، په دی کی څه شک نشته چی د امریکا، د عبدالله د ډلی،دطالبانو، د پاکستان، د ایران او نورو ګاونډیو هیوادونو شریک پلان به همداوی چی د ډاکټر غنی دولت د ماتی سره مخامخ کاندی او د یوه داسی دولت د جوړیدو په تکل کی شی چی په عمده توګه د پاکستان د نظامیان په اراده کی وی.

۵ – وطنوالو ژور فکر وکړی. لا تر اوسه مو هیواد مستقل او آزاد دی ، مونږ او تاسو هم د آزادو انسانان په توګه تصمیم نیولی شو، خو که د غنی په مشری د موجود نظام ملاتړی نه شو، ډیر وخت به ونه لروچی د وطن د دښمنانو د پلان د تطبیق مخه و نیسو. په تاکید سره وایم چی که ملی یووالی و نه ساتو او د خپل موجود جمهوری نظام نه ساتنه ونه شو کړلی، هر ډول آزادی به له لاسه ورکړو او بیا د سر تندی وهل هیڅ ګټه ونه لری. نوره مو خوښه. په درنښت.

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!